مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید

۲۰۲۵/۰۹/۱۸

# د اسرائیلو ځواکمنتیا او تر شا یې پراته لاملونه

د اسراییلو اوسنی ځواک په خلیج کې یوازې د لوړو جنګي ورتیاو درلودلو پایله نه ده، بلکې د سیمې د تاریخي نیمګړتیاوو نتیجه هم ده. له لومړی نړیوالې جګړې څخه وروسته د منځني ختیځ نقشه د بریتانیا او فرانسه لخوا د سایکس–پیکو تړون له مخې په مصنوعي ډول داسې ترتیب شوه چې پولې یې نه په قومي بنسټونو ولاړې وې او نه په تاریخي اړیکو. د پولو دغه جوړښت د کوچنیو سلطنتونو د رامنځته کېدو سبب شو، چې د یوه ځواکمن خپلواک ملت پر ځای د تل لپاره د بهرنیو ملاتړ ته سترګې په لاره واکمنان رامنځته کړي. د دغو نیمګړتیا له امله د خلیج هېوادونه د خپلواکو تګلارو د جوړولو پر ځای د تل لپاره د بهرني ملاتړ په مرسته ولاړ پاتې شول.

د فلسطین قضیه د اسلامي نړۍ د ګډې مسئلې په توګه پېژندل کېده، خو د عربو مشرانو خپلمنځي رقابتونو، ناوړه حکومتولیو او په سیمه کې د ایران د نیابتي سیاستونو پراختیا امریکا او اسراییلو ته د نفوذ د پراخولو فرصتونه برابر کړي دي. د ۱۹۴۸، ۱۹۶۷ او ۱۹۷۳ جګړې ښیي چې عرب ځواکونه د ګډ ستراتیژیک درېځ پر بنسټ نه، بلکې یوازې د خپلو محاسبو پر اساس عمل وکړ. د (۱۹۶۷) کال شپږ ورځنۍ جګړې پر مهال د مصر، سوریې او اردن د ځواکونو ترمنځ د همغږۍ نشتوالي اسراییل ته د بشپړ بریا لاره هواره کړه.

د خلیجي هېوادونو ترمنځ بې باوري لا هم دوام لري. دغه هېوادونه د دفاع لپاره د ګډ میکانېزم رامنځته کولو پرځای د خپلو ځانګړو سیاستونو له مخې عمل کوي. سعودي د ایران پر وړاندې د امریکا په ائتلاف حساب کوي، قطر له ترکیې سره اړیکې پراخوي، او امارات له اسراییلو سره مستقیمې همکاري لري. سربېره پر دې، د ۲۰۲۵ کال په جون کې د اسراییلو او ایران ترمنځ مخامخ جګړې د سیمه‌ییز امنیت لپاره جدي ګواښونه رامنځته کړل. دغې جګړې وښوده چې د خلیج هېوادونه د پراخو نړیوالو او سیمه‌ییزو بحرانونو په وړاندې لا هم د خپلو ستراتیژیکو پرېکړو په برخه کې خپلواک نه دي.

د خلیج هېوادونه د تیلو او ګازو د سرچینو درلودلو له مخې له اقتصادي پلوه ځواکمن ګڼل کېږي، خو دا ځواک لا هم د خپلواک تصمیم پر ځای د بهرني ملاتړ لپاره کارول کېږي. که جنګي لګښتونو ته سرسري او پرتله ییزه کتنه وکړو، نو وینو چې یوازې سعودي عربستان په ۲۰۲۵م کې شاوخوا ۷۸ میلیارده ډالر دفاعي چارو ته ځانګړي کړي، قطر نږدې ۱۴ میلیارده ډالر، او اسراییل د ۲۷ میلیارده ډالرو دفاعي بودیجه لري. له دومره ستر توپیر سره هم اسراییل د سیمه‌ییزو ځواکمنتیاو په معادلو کې برلاسي ترلاسه کړې ده. ټکنالوژي د اسراییلو د نفوذ یوه مهمه وسیله ده؛ اسراییل د اوبلنو سرچینو په مدیریت، کرهنې، ډرونونو او سایبري امنیت کې مخکښ دی، چې خلیج هېوادونه یې د خپلو ستراتیژیکو اړتیاوو لپاره اړمن کرزولي دي. ابراهیمي تړونونه یوازې د امنیتي اندېښنو پر بنسټ نه، بلکې د ټکنالوژي په برخه کې د اسراییلو مرستو ته د اړتیا په رنا کې لاسلیک شوي دي.

قطر، د امریکا له ملاتړ سره سره د اسرائیلو او حماس ترمنځ د منځګړتوب هڅه کوله، خو بیا د اسراییلو لخوا په نښه شو. اسرائیلو خپلو ستراتیژیکو ګټو ته د لومړیتوب ورکولو په موخه په دوحه کې د حماس په سیاسي دفتر باندې هوایي برید ترسره کړ چې لمړنیو راپورونو له مخې شپږ کسان پکې وژل شوي دي. دغه برید وښوده چې اسرائیلو ته له فلسطین سره سوله او د قطر لخوا د منځګړیتوب هڅې هیڅ ډول ارزښت نه لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسراییل د سیمې په معادلو او محاسبو کې دومره راپورته شو چې خلیج حاکمان اوس د خپلواک تصمیم پر ځای د اسرائیلو غیر مستقیم ملاتړ ترلاسه کولو لپاره لابي کوي. د لویدیځ لخوا د ایران اتومي وړتیاو په تناظر کې د رامنځته کیدونکي احتمالي خطر په لوړه کچه رسنیز کول، د ټکنالوژۍ اړتیاوې، د امریکا او اسراییلو ګډ سیاستونه د دې لامل شوي چې خلیجي مشران د فلسطین د قضیې پر ځای د خپلو سلطنتونو د بقا لپاره په هڅو ګولو باندې تمرکز وکړي.
د خلیج هېوادونه یوازې هغه مهال د بهرني فشار په وړاندې خپلواک پاتې کیدای شي چې اقتصادي تنوع رامنځته کړي. سیمه ییزه همکاري او ګډ امنیتي ستراتېژي ولري او د ولسي ملاتړ پر بنسټ حکومتونه پیاوړي کړي. د اسلامي نړۍ په کچه د فلسطین قضیه د یو متحد محور په توګه تعریف کړي، ترڅو د امت یووالی بیا را ژوندی شي او د اسراییلو نفوذ محدود کړي. د دغو اقداماتو په ترسره کولو خلیج هېوادونه کولای شي د خپلواکي، ثبات او ستراتېژیک وقار یوه دوامداره بنسټ کېږدي.

لنډه دا چې په سیمه کې د اسرائیلو د ځواکمنتیا نوې سناریو او ددغه هیواد برلاسی هغه واقعیت دی چې وربانديې سترګې پټول ناممکن شوي دي. ددغه هېواد اوسنۍ ځواکمنتیا په خلیج کې یوازې د جنګي وړتیاو او ټکنالوژیکو برياو پایله نه ده، بلکې د سیمې د رهبرۍ نیمګړتیا، د همغږي نشتون، په امریکا باندې د خپل راتلونکي تکیه او د دغه هېواد ملاتړ پربنسټ د پالیسي د تعریف پایله ده. تر څو چې خلیج هېوادونه د خپلې ځواکمنتیا لپاره د ولس پر اوږو تکیه ونکړي، د اقتصادي تنوع او سیمه ییزې همکاري لارې رامنځته نه کړي، اسراییل به د هغوی پر سیاست او بقا د فشار یوه اساسي وسیله پاتې وي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ